پوهندوی آصف بهاند

# د لوړې سونامي

## نولسمه برخه

د لوړې سونامي په راتک سره د افغانستان خلک له ګڼو ستونزدو سره لاس ګرېوان شول، د ژوندي پاتېکېدو لپاره چا خپله زېرمه کړې شتمني مصرف کړه، چا د کور اسباب خرڅ کړ، چا خپلې ګانې وپلورلې، چا خپل غير منقول جايدادونه ليلام کړي، چا د بدن غړي ليلام کړل، چا د کورنۍ د يو شمېر غړو د ژوندي ساتلو په غرض د خپل زړه کترې يعنې اولادونه خرڅ کړل او...

بهرنۍ مرستې راغلې، وويشل شوې، خو ځيني خلک يې داسي انګېري لکه هېڅ چې راغلي نه وي. نوي واکداران هرڅه خدای ته سپاري او د لوړې سونامي نه د رازېږېدلو ستونزو په حل او له منځه وړلو کې هېڅ هم نه کوي. دا يوه اوږده غميزه ده او لنډ مهاله مرستې يې اساسي درد نه شي دوا کولای.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړې استازې ديبورا لاينز، په افغانستان له شته ستونزو نړيوال خبر کړي دي او د افغانستان لپاره يې د مرستو د جلبولو په برخه کې ځانګړی او د پاملرنې وړ رول ولوباوه؛ خو د نړيوالې ټولنې له خوا د نويو واکدارانو تحريمونو هم د مرستو د راتګ او ويش په برخه کې ستونزې رامنځته کړېدي.

آغلې ديبورا لاينز د ملګرو ملتونو امنيت شورا ته په خپل يوه رپوټ کې ويلي دي چې:

«واکمنو چارواکو سره له کار پرته افغانانو سره مرسته ناشونې ده.»

د اغلې لاينز د خبرو پر بنا بي بي سي پښتو يو رپوټ خپور کړی دی، د ياد رپوټ په يوه برخه کې داسې راغلي دي:

«... د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړې استازې د امنيت شورا دې ناستې ته وويل "راځئ دا روښانه کړو - موږ باور نه لرو چې له واکمنو چارواکو سره له کار پرته دې افغانانو سره په رښتيا مرسته وکړی شو".

هغې وويل که څه هم ځينو ته به ښايي د دې منل ستونزمن وي، خو دا کار يې اړين وباله.

خو اغلې لاينز د دې غوښتنې ترڅنګ وويل پر دې هم پوه ده چې د نړيوالې ټولنې او ان د سيمې او ګاونډيو هېوادونو او طالبانو ترمنځ لا بې باوري حاکمه ده.

هغې وويل طالبان داسې انګيري چې ناسم پوهاوی موجود دی او "تل راته شکايت کوي چې ګوندې زموږ رپوټونه واقعيت هغسې نه منعکسوي چې دوی ته ښکاري."...»

«سيګار» په يوه تازه رپوټ کې ويلي دي چې په افغانستان کې اويا سلنه کورنۍ نه شي کولای چې لومړني خوراکي توکي تامين کړي، د همدې دليل له مخې د سوال کونکو يا ګداييګرو شمېر مخ په ډېرېدو دی.



دغه راز د اسلامي همکاریو سازمان په کابل کې، د لوړې سونامي له راتګ شپږ میاشتې وروسته د بشري مرستو دفتر پرانیست.

پر افغانستان باندې د لوږې سونامي له راتګ نه ډېره موده وروسته د اسلامي نړۍ ورونه او غړي هېوادونه د فیل په غوږ کې ویده وو، ایله اوس راویښ شول او د عیسویانو او غربیانو په تقلید سره یې د بشري مرستو له پاره په کابل کې یو دفترګی پرانستی دی، وبه لیدل شي چې دوی هم لکه د بل اسلامي او ورور؟ هېواد پاکستان په څېر خوسا او تاریخ تېر شوي خوراکي توکي رالېږي او که څو کارتنه داسې خرما چې نور یې د هغوی له پاره ساتل هم درد سر وي.

یوه هیله راټوکېدلې ده چې نړیوال بانک غواړي په افغانستان کې خپل درول شوي پروګرامونه بیا پیل کړي، دا یې رپوټ دی:

«ښه خبر:
نړیوال بانک په افغانستان کې په ځینو برخو کې خپل فعالیت بیا پیلوي،

نړیوال بانک یوځل بیا په افغانستان کې د کرنې، روغتیا او کورني معیشت په برخو کې کار پیل کار پیلوي. دې بانک درې اونۍ مخکې د نجونو پر زده کړو د طالبانو له بندیز وروسته د شاوخوا ۶۰۰ میلیون ډالرو په لګښت په افغانستان کې خپلې ټولې پروژې وځنډولې.

دوو سرچینو رویټرز خبري آژانس ته ویلي چې له تعلیم پرته د شاوخوا ۴۵۰ میلیون ډالرو په ارزښت په دریو نورو برخو کې د کار د پیل پرېکړه د افغانستان د اقتصادي بحران ژورېدو او د خوړو او انرژۍ د موادو د بیو لوړېدو ته پام سره شوې چې علت یې په اوکراین کې د روسیې جګړه ده.

په پام کې ده چې د افغانستان د بیارغونې د صندوق اوه لوی تمویلوونکي هېوادونه د جمعې په ورځ د نړیوال بانک او د پیسو د نړیوال صندوق یا IMF د پسرلنۍ غونډې پرمهال د افغانستان د اقتصادي او غذايي امنیت پر ستونزو بحث وکړي.»

د لوړې سونامي په اوږدو کې داسې عکسونه هم په میډیا کې راښکاره شول چې د با احساسه وګړو له پاره دا په خپله یوه بله سونامي وه چې په لیدلو سره یې ځانونه په سونامي کې غرق احساسول:





دا کوچنیان که په دې ډول ماړه کړای شي، دوی په خیرات روږدي کېږي او دا خیرات به د ژوند ترپایه غواړي.

دې کوچنیانو او نوي نسل ته د خیرات ورکولو د پایلو په برخه کې د یوه فیسبوک کارن (حمزه شمیل) د تبصرې یوه برخه:

«... خو دا یو شی سته چې شمالي کوریا نه افغانستان دئ او نه اوکراین دئ چې څوک حمله په وکا، په نس یې وږي ساتلي دي خو د قوي مورال سره ژوند کوي او غربیانو ته یې سوټې لاس کې نیولی دئ ،غوږه وي که سپوره وي خپله یې ده...
زموږ ملک خداداد دی خدای لري راته؛
نه مو وسله خپله ده نه پیسه او نه ډوډۍ او نه د خپلې خاورې پوره اختیار لرو.
دغه ډوډۍ چې یې لاس کې ورکړیده د اوس نه یې د خپلې خیتې د ډکولو پروګرام نس ته وراچوي، دا چې پردۍ ډوډۍ په لاس داسې رالویږي نو نه به یې فکر خپل وي او نه به د بل څه باره کې د فکر کولو وړتیا لري _ بس دغې ډوډۍ پسې به لالهانده وي هغه که د غلامۍ په قیمت هم وي....
خلاصه دا چې د وطن میرمن ډېره ده سره یې د وګړو. یو څو مړه او خرڅ ضمیرونه به مزې کوي او بس.
وطن باید دغه حالت نه ووځي...
نوټ _ د روسي کوپونونو او ګاونډ په راشنونو چې راغټ سویدي هغوي اکثریت پردیپال دي ،تاریخ یې ګواه دئ او موږ ولیدل او ګورو یې..
که غواړو چې غلامۍ ځانونه او وطن وژغورو _نس ته یې چې وراچوو باید خپل مو وي.
غریبي سړی کفر ته وباسي نو د وطن خو دې الله مل سي...
کاش موږ کې د مشر نه تر کشره د شمالي کوریا د وګړو هومره د وطندوستۍ حس مضبوط وای .»

د حل لاره خو دا ده چې د لوږې سونامي د له منځه وړلو لپاره باید: «کورنیو تولیداتو ته جدي پاملرنه وشي. که لوږه همداسې پر خلکو حاکمه وي لرې نه ده چې تش نسونه به تشې ککرې رامنځته کړي او تشې ککرې غلامي او نورو ته د لاس غځولو زمینه برابروي او د ګدایي په مرض مو لړي.»

ټول خلک باید د ګدایي له دایرې نه وژغورل شي، په تېره نوی نسل. بیا یې هم په تکرار سره وایم چې د لوږې له سونامي څخه د خلاصېدو اصلي لار په خپلو پښو درېدل دی، نه لنډمهاله مرستې او نورو ته د ګدایي په دود لاس غځول.